بسم الله الرحمن الرحيم

## رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سپکاوی د هېرولو نه دی

### خبر

د ترکيې په استانبول کې د فاتح په ساراچن نومي پارک کې، د حزب التحرير ولايه ـ ترکيه له خوا (رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سپکاوی د هېرولو نه دی) تر عنوان لاندې، کنفرانس نيول شوی و. دغه کنفرانس د جمعې له لمانځه وروسته تر سره شو او په سلگونو مسلمانانو گډون پکې کړی وو. په ياد کنفرانس کې د کرونا ويروس له کبله طبي سپارښتنې هم په پام کې نيول شوې وې.

### تبصره

که مو ياد وي، په ۲۰۱۵م، کې هم فرانسوي مجلې شارلي عبدو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د سپکاوي په موخه د هغه الله صلی الله علیه وسلم عکسونه خپاره کړي وو. يوه ورځ مخکې له دې چې دغه عکسونه د دوی له خوا تاييد شول، فرانسوي مجلې ياد عکسونه راوړي وو او په اسلامي نړۍ کې يې پر وړاندې سختې نيوکې وشوې. اوس يو ځل بيا پنځه کاله وروسته دغه عمل ترسره کېږي. په همدغه وخت کې د مجلې اېډېټ کوونکي مشر وويل؛ چې هېڅکله به هم له دغه کار څخه لاس وانخلي. دا ډېره درودوونکې نه ده، چې د ټول اسلامي امت په کچه موږ د خپلو ارزښتونو پوښتنه ونه شو کولای؟ يوه پېښې کېږي چې موږ له دا ډول ستونزو سره لاس او گرېوان يو او نشو کولای له خپلو ارزښتونو دفاع وکړو. دليل يې د اسلامي خاورو د چارواکو له چوپ پاتې کېدو پرته بل څه نه دي. همدغه چوپتيا ده چې کفارو ته جرات ورکوي، تر څو زموږ ارزښتونو ته سپکاوی وکړي.

د مسلمانانو عاموژنه پېښيږي او يا هم ښکېلاکگر هڅه کوي، چې د دغو ظلمونو پړه پر اسلام او اسلامي ارزښتونو ورواچوي. زموږ چارواکي له شک پرته، لاندې دوه کارونه ترسره کوي؛ لومړی: دوی محکوموي. دويم: پر نړيواله ټولنه غږ کوي، دغه مسئله وڅېړي. زموږ پيغمبر صلی الله علیه وسلم ته سپکاوی کېږي او زموږ چارواکي يې يوازې په خبرو محکوموي، ځکه چې د الله سبحانه وتعالی دښمنان په دې پوهېږي، چې د مسلمانانو د چارواکو يوازې محکومول زده دي.

دا سمه نه ده، زما گرانو ورونو غواړم له تاسو یوه پوښتنه وکړم: ایا زموږ هغه چارواکي کولای شي چې له ښکېلاکگرو کفارو سره ښې نږدې، استراتیژیکې او دوستانه اړیکې جوړې کړي؟ نو زموږ رهبر رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د دوی عاجزي بیان کړې ده.

ایا هغه چارواکي چې د پاریس په کوڅو کې له کفارو سره لاس په لاس گرځي او په هر ځای کې یې دوی ته وړین تندي نیولي وي، کولای شي له اسلام او اسلامي ارزښتونو دفاع وکړي؟ نه هېڅکله هم نه، ځینې وخت سخت محکومول د دوی لپاره لوی کار دی. ایا هغه چارواکي چې د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره له کفارو نفرت هم نه شي کولای، له مسلمانانو سره همدردي وکړي؟

دا ښکاره خبره ده، چې رسول الله صلی علیه وسلم ته سپکاوی به یوازې په محکومولو سره پای ته ونه رسېږي. له اسلامي ارزښتونو یوازې په وینا دفاع نه شي کېدلی. بلکې یوازې راشده خلافت به وکولی شي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند ته ارزښت ورکړي او الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول ته سپکاوی، ختم کړي. دغه سپکاوي به یوازې د راشده خلافت په بیا تاسیس سره ودرول شي، چې دغه خلافت به بیا هېڅکله هم د مسلمانانو او اسلامي ارزښتونه د اوسني وخت په شان قرباني نه کړي. هغه وخت به دوی ته د اوسنیو له غرب سره د اسیرو چارواکو په شان ځواب نه ورکول کېږي، بلکې د سلطان سلیمان او دویم سلطان عبدالحمید په شان به سمدستي خپل پوځونه برابر کړي او د دغو کړنو ځوابونه به ورکوي. اې فرانسې زموږ د پوځونو د قدمونو غږ به لومړی تاسې واورئ او خپل ځان به وپېژنئ، ځکه چې خلافت د مسلمانانو د سپر نوم دی او مسلمانان د هغه تر شا ساتل کېږي او جهاد کوي.

اې کفارو! کله چې دغه نظام تر تاسو پورې راورسېږي، نو قرآن موږ ته ویلي، چې کفار د اسلام پروړاندې له هغه نفرت او کرکې، زیات نفرت او کرکه لري، چې په ژبه یې ښکاره کوي. په بل ځای کې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ﴾** [عمران: ۱۱۸]

*__ژباړه:__ کوم نفرت چې دوی له اسلام سره په خوله ښکاره کوي، په زړونو کې یې له هغې هم زیات دی. موږ به تاسو ته ستاسو گناه ډېره ښه واضح کړو، که تاسو دلیل وغوښت.*

په بل ځای کې قران موږ ته اشاره کړې ده:

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ إِلَى جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمِهَادُ﴾[عمران: ۱۲]

***ژباړه:*** *هغو کسانو ته ووایه چې ایمان نه راوړي؛ تاسو به په دوزخ کې یو ځای سره راټول کړای شئ او په یوه ډېر بد ځای کې به پرېښودل شئ.*

تاسو به هېڅکله هم د اسلام پر وړاندې له برید او دښمنۍ لاس وانخلئ. خو په دې پوه شئ چې موږ به هم تر خپل اخري نفس پورې له تاسو سره جگړه وکړو. موږ به هېڅکله هم تاسو ته اجازه درنکړو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سپکاوی وکړئ. په حقیقت کې موږ د دغه رسول امت یو، چې تل یې د ظلم، پروړاندې مقاومت او له کفارو سره حساب او کتاب کړی دی.

اې الله سبحانه وتعالی ته خو یو ځل بیا موږ ته د نبوت پر منهج راشده خلافت رانصیب کړې، داسې یو خلیفه راکړې، چې په ریښتیا له الله سبحانه وتعالی څخه وېره ولري، نه له کفارو څخه او داسې چارواکي راباندې حاکم کړې، چې کفارو ته په ژبه نه بلکې د پوځونو په گوزار ځواب ورکړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: عبدالله امام اغلو**

**۱۴۴۲هـ.ق، د محرم ۲٦مه**

**۲۰۲۰ م، د سپتمبر ۱۴مه**